Social Sceince
AcademicJournal

لید د پوهنتون ټولنیزو علومو علمي مجله

LSSAJ

# د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د آیینې څېړنه

پوهنمل وحیدالله امیري

هلمند پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، پښتو څانګه

مسؤل ایمیل ادرس: amiri.786@yahoo.con

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۱۱/۱۶ منل سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ خپره سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت کڼه: LSSAJ-1-2-24 مخونه (۱۹۱-۲۱۱)

## لنډیز

دپښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو د شعري ښکلاوو د زیاتوالي او د عرفاني پیچلو موضوعاتو د وړاندې کولو په موخه له بېلابېلو تشبیهاتو، استعارو او سېمبولونو څخه ګټه اخیستې ده چې له هغه جملې څخه یو هم آیینه ده. په منځنۍ دوره کې شاعرانو آیینه د زړه د سېمبول، استعارې او تشبیه په توګه راوړې ده، په ادبیاتو کې تر ډېره د سکندر د آیینې یادونه شوې چې ځینو تاریخي آثارو ته په کتو سره د آیینې د جوړېدو نسبت سکندر ته شوی دی. هغه د سکندریې د ښار د ساتلو په موخه د ارسطو په مرسته داسې آیینه جوړه کړه چې په هغه کې به یې د دښمن حالات د ځان لپاره معلومول. د څېړنې نتایج ښیي چې د پښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو آیینه د انسان دزړه په معنا سره کارولې ده. دا چې آیینه څومره صافه او روښانه وي په همغه اندازه تصویر ښه معلوموي په تصوفي شاعرۍ کې هم څومره چې د انســان زړه له ګناهونو، تکبر او حســد څخه خلاص وي په همغه اندازه یې په زړه کې د الله ج تجلی ځای نیسي. په دې څېړنه کې د آیینې هر اړخیزه څېړنه د څېړنې د کتابتوني ډول او تشریحي او توضیحي مېتود په مرسته ترسره شوې د څېړنې هدف او ارزښت په دې کښې دی چې د آیینې پټ رمزونه پکښې څرګند او روښانه شوي دي.

**کلیدي کلمې:** آیینه، زړه، زنګ، عرفان، خاکساري

## سریزه

ان الحمدلله نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیئات اعمـــالنا، من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادی له، و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریك له، واشهد ان محمداً عبده ورسوله اما بعد!

د پښـــتو ادب په منځنۍ دوره کې د آیینې مفهوم په بېلابېلو ترکیبونو او مفاهیمو سره راغلی، چې تر ډېره د سکندر د آیینې یادونه پکښې شوې ده. آیینه په اصل کې د پهلوي ژبې لغت دی، د Ad له ریښـــې او Ven مختاړې چې معنا یې د یدن ده جوړه شـــوې ده. نوموړې کلمه په دوه ډوله Ayinak او Ayenak سره ثبت شـــوې ده چې دوې معناوې لري آیین د ( رواج، آداب او

طریقې) او د آینې په معنا ده( داوري مقدم، ۱۴۰۰، ص ۳). آینه هغه سیقل شوې سطحه ده چې له هر جسم څخه نور ورته ورسیږي دا سې یې انعکاس کړي چې د هغه جسم تصویر جوړ کړي. هغه ځای چې په هغه کې یو شــی څرګندیږي؛ د ظهور او تجلی ځای ( انوري، ۱۳۸۳، ص ۳۳ ). آینه هم لکه اوبه د پاکۍ، صــفایي، د روښــنایي او د نور د تجلی مظهر وه او د عارفانو په نزد د مؤمن، صوفي او کامل شخص په زړه باندې تعبیر شوې ده (کرمی اعظم. اقدم، ۱۳۹۷، ص ۸۳ ). آیینه له خپل ځان سره ډېر مفاهیم لیږدوي آیینه د باطن او زړه په مانا ده. آیینه د خاکســارۍ سېمبول دی. د پښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو آینه له زړه سره تشبیه کړې څرنګه چې په آیینه ګرد او غبار وي تصــویر ســم نه معلوموي دارنګه که پر زړه د کینې، حســد، تکبر او نورو نفسي-غوښــتنو ګرد پروت وي په هغه زړه کې د الله تعالی نور نه انعکاســیږي. دا چې پخوا وختونو کې آیینې له فلزاتو څخه جوړېدې او د وخت په تېرېدو سره به زنګ کېدې نو ددې لپاره چې صــافه او روڼه وي نو په خاورو سره به یې مو ښودې تر څو یې زنګ لرې شي او له خاورو څخه به یې دا کمال ترلاســه کاوه چې ســم تصــویر وښــیي په عرفاني ادب کې خاورې د تواضــع، عاجزۍ او خاکسارۍ لپاره سېمبول دی هغه څوک چې تواضع، عاجزي او خاکساري کوي د کمال درجې ته رسېږي. په دې څېړنه کې د پښتو ادب د منځنۍ دورې د لسو تنو مخکښو شاعرانو په دیوانونو کې نوموړې موضوع د کتابتوني څېړنې او تشریحي او توضیحي مېتود په مرسته څېړل شوې، نوموړو شاعرانو د آیینه د زړه له پاره د تشبیه، ا ستعارې او سېمبول په توګه کارولې ده. د آیینې رمزونو په اړوند د اڅېړنه یوه بشــپړه څېړنه نه شــو بللای خو هڅه شــوي چې د آیینې ځینې رمزونه پکښــې روښانه کړو.

## د څېړنې کړنلاره

نوموړې څېړنه چې (د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د آیینې څېړنه) تر سرلیک لاندې بحث ورباندې کوو د څېړنې په کتابتوني ډول ، د تشریـحي او توضـیحي میتود په واسـطه سره معلومات راټول او تحلیل شــوي دي. د معلوماتو په راټولولو کې له معتبرو کتابونو، مقالو او د پښــتو ادب د منځنۍ دورې د ځینو مشهورو شاعرانو له دیوانونو څخه پکې استفاده شوې ده.

## د څېړنې مخینه

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د آیینې په اړه په پښتو ژبه کې تر او سه کوم بشپړ اثر یا هم کومه څېړنېزه مقاله نه ده لیکل شوې. نو ځکه لازمه وبرېښېده تر څو د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د آیینې څېړنه وکړو ترڅو معلومه شي چې د منځنۍ دورې شاعرانو نوموړې آینه د څه لپاره او په کومو ماناوو سره په خپلو شعرونو کې کارولې ده. په فارسي ژبه کې د آیینې په اړه ډېرې مقالې نشر شوې، چې په هغه کې یې د آیینې بېلابېل اړخونه روښانه کړي دي. روشن په (۱۳۸٦) کال کې د «آیینه د مولوي له نظره» تر سرلیک لاندې لیکلې ، سرامي په (۱۳۸۸) کال کې « د ایران په عرفاني ادبیاتو کې د آیینې تجلی) تر سرلیک لاندې مقاله خپره کړې، اسکویي په (۱۳۹۵) کال کې « په فارسي عرفاني ادب کې د آیینې مفهومي استعاره) تر سرلیک لاندې مقاله خپره کړې. دې ته ورته ډېرې مقالې د آیینې په اړه د ایراني لیکوالانو له خوا څخه د ایران په ملي ژورنالونو کې خپرې شوې دي، چې په دې څېړنه کې د فارسي ژبې له ډېرو آثارو او مقالو څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې ارزښت

د آیینې په مفهومي او معنوي اړخ په پښتو ادب کې تر اوسه کومه مقاله او بشپړ کتاب نه وو لیکل شوی. په دې څېړنه کې د آیینې په تاریخي مخینه او د هغه په پټو رمزونو باندې بحث شوی چې نوموړې څېړنه به د ادب له مینوالو سره د آیینې د بېلابېلو مفاهیمو په پېژندولو کې مرسته وکړي، عرفاني ادبیات په سېمبول او استعاره سره ولاړ دي نو لازمه ده چې د داسې استعارو او سېمبولونو معنوي او مفهومي څېړنه ترسره شي. نوموړې څېړنه به د منځنۍ دورې د شعر د لوستونکو لپاره یو لاس وند وي.

## آیینه

ویل کېږي چې آیینه په اصل کې (آهنه) او یا هم (آبګینه) وه او آهنه د اوسپنې یوه ټوټه ده چې له خاورو او ختو سره د سولیدو له کبله صیقل شوې وي. د اوسپنې دغه ټوټه د سپارې په څوکه کې وي. د سپارې دغه څوکه چې پال ورته ویل کېږي د کولبې مهمه وسیله ده. کله چې د زیات کار او کولبې کولو له امله زړه شي د هغې مخ په بشپړ ډول دومره شفاف او د ځلا لرونکی

شي چې د انسان مخ پکې په ډېر ښه ډول ښکاره کېږي. پخوا به ښځو هغه په کور کې ساتله او له زنګ وهلو، خاورو او دوړو څخه د ژغورل کیدو په خاطر به یې په یوه ښکلي ټوکر کې پوښله. په یوه ژور ډنډ کې اوبه هم همدا ځانګړتیا لري یعنې د هرڅه انځور پکښــې ښــکاري نو کیدای شي آبګینه له همدې څخه را اخیستل شوې وي( آریانا دایرة المعارف لومړی ټوک، ۱۳۸۶، ص ۹۷).
آیینه په ا صل کې د پهلوي ژبې لغت دی، د Ad له ریښې او Ven مختاړې چې معنا یې دیدن ده جوړه شوې ده. نوموړې کلمه په دوه ډولهAyinak اوAyenak سره ثبت شوې ده چې دوې معناوې لري آیین د ( رواج، آداب او طریقې) او د آیینې په معنا ده( داوري مقدم، ۱۴۰۰، ص ۳).
د ســیمبولونو په فرهنګ کې آیینه په دې ډول سره تعریف شــوې ده: آیینه( speculum ) د لاتیني کلمې ریښــه ده چې د ژور فکر کولو او د یوې مسئلې په اړه غور کولو ته اشاره کوي. په اصل کې دا لغت د آسمان د څارنې او د ستورو د حرکتونو د معلومولو لپاره د یوې آیینې په مرسته کارول کېده. آیینه د یوې انعکاسي ســطحې په توګه د شـــناخت او پوهې په برخه کې د بډایه ســیمبولیزم ملاتړ کوي. آیینه د حقیقت، صــمیمیت، د زړه دروښتیا او پوهې انعکاس دی. آینه د اشراق وسیله ده. په حقیقت کې، آینه د حکمت او پوهې سیمبول دی. په ګردونو پوښـل شـوې آینه، روحاني تیاره او جهالت دی( داوري مقدم، ۱۴۰۰، ص ۴).
آینه هغه سیقل شوې سطحه ده چې له هر جسم څخه نور ورته ورسېږي دا سې یې انعکاس کړي چې د هغه جســم تصــویر جوړ کړي. هغه ځای چې په هغه کې یو شــی څرګندېږي؛ د ظهور او تجلی ځای ( انوري، ۱۳۸۳، ص ۳۳ ).
آیینه (miror ) یا آیینه، د لغت پوهنې له نظره د ( ادونک) ( advenak ) څخه اخستل شوې چې د شـکل او لیدلو په معنا ده.( یاحیقي، ۱۳۹۱، ص ٦۱). آیینه هم لکه اوبه د پاکی، صـفایی، روښــنایی او د نور د تجلی مظهر وه او د عارفانو په نزد د مؤمن، صــوفي او کامل شــخص په زړه باندې تعبیر شوې ده (کرمی اعظم. اقدم، ۱۳۹۷، ص ۸۳ ).

## د آیینې تاریخي مخینه

دا چې آیا آیینه څرنګه اختراع شـــوې یا چا د هغې د جوړولو فکر وکړ، او چا لومړی ځل په آیینه کې خپل مخ وکوت، دې پوښـــتنو ته قانع کوونکی او ربښـــتانی ځوب نه دی موندل شـــوی ځکه چې دا د بشرـــیت د ژوند په هغه وخت او دوران پورې اړه پیدا کوي چې لا هغه وخت د پېښو ثبت او لیکلو امکان نه درلود یا یې که امکان درلود، د وخت په تېرېدو سره له منځه تللی دی. امکان لري چې انســانانو د لومړي ځل لپاره آیینه له طبیعت څخه کشــف کړې وي. د لرغونپوهانو پلټنې دا ښــکاره کوي چې له پنځه زره کاله څخه مخکې په لرغوني مصرــ کې آیینه رواج وه او د فرعونیانو په قبرونو کې یې ځینې نمونې لاس ته راغلې دي د کرت د ټاپوګانو په لرغوني تمدن کې د (مینوشي تمدن) په نامه یادېږي او له هغه راهیسيــ ۴۵۰۰ کلونه تېرېږي، ښــځو آیینې ته دومره ارزښــت ورکاوه چې هغه به یې په تابوت کې ور سره ایښــودلې تر څو ددوی په خیال، وروســته له مړینې هم خپل مخونه په هغو کې وګوري ( آریانا دایرة المعارف لومړی ټوک، ۱۳۸٦، ص ۹۸).

په پخوانیو او لرغونو آثارو کې یوازې فلزي آیینې چې کوچنې اړخونه یې لرل کارول کېدې. د طلا، نقرې، فولادو او برنج څخه د آینې په جوړولو کې ګټه اخیستل کېده. تر شــپاړسـمې پېړۍ پورې فولاد د آیینې په جوړولو کې استفاده کېدل. مګر په اوسني عصر کې له ښیښې آیینې څخه استفاده کېږي. د اشیاوو د انعکاس د ځانګړنې په اساس آیینه له ډېرې پخوا زماني څخه د حقیقت د ځلا او څرګندولو لپاره یو روښانه تمثیل ګڼل شوی دی. د هغه موضوعاتو له جملې څخه چې د مســلمانانو د توجه وړ ګرځېدلې ده د ســکندر آیینه ده چې په ادبیاتو کې ډېره کارول شــوې ده ( معین، ۱۳۲۸، ص ۳۰٦).

د نوموړې آیینې په اړه ابوالحسن علی بن الحسین بن علی مسعودي چې په (۳۴٦هــــ )کې وفات دی په «مروج الذهب »کې یې د آیینې شــتون تائید کړی دی. هغه لیکي د اســکندریې مناره د مصرــیانو او د اســکندریې  خلکو چې د ښــار له حالاتو څه خبراوي ته یې توجه کوله جوړه کړه. لومړنی شخص چې دا مناره یې پیل کړه اسکندر بن فیلبش (فیلبس ـ فیلپس) مقدوني وو. ځینې په دې باور دي چې نوموړې مناره ملکه «دلوکه» جوړه کړې ده او د دښمن د لیدلو او څارلو لپاره چې ددوی  ښار ته به ورتلل ا ستفاده ترې کوله. ځینې پر دې باور دي چې لسم فرعون جوړه کړې ده، ځینو دا سې روایت کړی هغه چا چې د رومیې  ښار جوړ کړ هغه د ا سکندریې  ښار او د هغه مناره

او د مصر اهرامونه جوړ کړل. دا چې اسکندريه د سکندر د شهرت په خاطر په اکثرو ممالکو کې هغه ته منسوبه شوې نو په دې اساس يې په دې نامه سره شهرت پيداکړ ( معين، ص ۲۵).

ابواسحاق ابراهيم بن محمد فارسي اصطخري چې په کرخي سره مشهور دی په څلورمه هجري پېړۍ کې په «کتاب المسالک و الممالک» کې ليکي: په اسکندريه کې يوه لوړه مناره د سنګ څخه جوړه شوې ده، چې له درې سوو څخه زياتې کوټې لري. بېدون له لاربنوونکي څخه څوک نشي کولای چې هلته ورشي ( معين، ص ۲۸).

شمس الدين ابو عبدالله محمد دمشقي په « نخبة الدهر»کې ليکي: له عجايبو څخه يوه د اسکندريې مناره ده، چې په ښايسته او قيمتي ډبرو سره جوړه شوې ده. په هغه کې تقريبا درې سوه داسې کوټې دي چې له هرې يوې يې درياب ليدل کېږي. ويل کېږي چې دا مناره سکندر مقدوني جوړه کړې ده. او ځينې وايي چې د مصر ملکې «دلوکا» جوړه کړې ده ( معين، ص ۳۴).

ناصر بن خسرو بن حارث قبادياني بلخي په خپله سفرنامه کې ليکي. په سکندريه کې يوه مناره وه چې په هغه مناره يوه اور اچونکې آيينه جوړه شوې وه. کله به چې د روميانو کښتۍ له استانبول څخه راتللې، هغه آيينې ته به چې مخامخ شوې له هغه آيينې څخه به يې اور اخيست. روميانو ډېرې هلې ځلې او هيلې وکړې ترڅو يې يو شخص ورواستاوه او هغه آينه يې ماته کړه (نوبر، ۱۳۹۸، ص ٦٦).

په برهان قاطع کې د آيينې جوړولو نسبت ارسطو ته شوی دی. ويل کيږي چې هغه د دښمن د حال څخه د خبرېدو په خاطر د اسکندريې د منارې پر سره نصب کړې وه. يوه ورځ يې د ساتونکو د بې پروايي له کبله دښمنانو ته فرصت په لاس ورغی او هغه يې په درياب کې واچوله او ارسطو بيا له اوبو څخه را و ايستله( زرياب خوبی، ۱۳۷۴، ص ٦١).

سقراط د جمهوريت په لسم فصل کې هنر آيينه ګڼلی چې عيني نړۍ منعکسوي. افلاطون او له هغه څخه وروسته فلوطين لومړني کسان وو چې آيينه يې د نړۍ د حقايقو څخه د انسان د واقعي او فراواقعي درکونو د بيان لپاره په مفهومي او استعاري ډول سره وټاکله ( داوری مقدم، ۱۴۰۰، ص ۴).

د پښتو ادب په کلاسيکه دوره کې هم زياترو شاعرانو د سکندر د آيينې يادونه کړې ده ، چې په دې اړوند دولت لوانی داسې وايي:

آینـه د ســـکـنـدر جام مـې د جـم زړه دی
حقیقـت پکښــې څرګنـد د کـل جهـان وینم
(لوانی، ۱۳۵۳، ص ۲۱۴)

میرزا خان انصاري وايي:

د ســـکــنــدر آیــنــه څــه شـــوه
چــې ډېــر پــټ پــکښـــې اعــلام کــړم
(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۸۹)

عبدالرحمان بابا وايي:

آیــنــه کــه د جــمال کــړي ور څــرګــنــده
دا ګـدای رحـمان بـه شـــاه ســـکـنـدر شي
(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۲۱۲)

معزالله خان مومند وايي:

کـه یـې جـام جـهـان نمـایـې د زنـګـون ولـیـد
نـور بـه څـه کـه آیـینـه د ســـکـنـدر څـوکـه
(معزالله مومند،۱۳۹۱، ص ٦٦)

عبدالقادر ختک وايي:

آيینـه چې ســـتـا دمخ ګوري ســـکـنـدر شي
چي پـه لاس کي جـام د مـیو لري جم دی
(عبدالقادر، ۲۰۰۲، ص ۱۹۵)

کاظم خان شیدا وايي:

پـه کښـــې عکس د خپـل جاه نهـایـت وینـي
آئـیـنـه چـې نـن پـه لاس د ســـکـنـدر ده
( شیدا، ۱۳۹۷، ص ٦۳ )

**آیینه او عرفان**

د سیمبولونو په فرهنګ کې راځي چې، آینه د ځان پېژندنې او تخیلاتو سېمبول دی، چې د محسوسې نړۍ د واقیعتونو تصویر انعکاس کوي؛ نو له همدې کبله د ذهن، ضمیر، زړه او خاطراتو سره اړیکه لري ( آبسالان، ۱۳۷۵، ص ۲۴).

په اســلامي عرفان کې آیینه د شــفافیت، صــداقت او صــفایی له کبله د توجه وړه ده، او عارفانو په خپلو آثارو کې آیینه د شــفافیت، صــداقت لپاره رمز یاده کړې ده او خپلو مریدانو ته توصـیه کوي چې د نورو خلکو په مقابل کې لکه آیینه صـادقانه او صـفا و اوسـی او دې حدیث شریف ته اشـاره کوي چې، ( المؤمن مراة المؤمن. ) ( آبسـالان، ۱۳۷۵، ص ۲۵). په دې حدیث شریف کې د شـخص اجتماعي او اخلاقي کړه وړه د آیینې سره پیوند پیدا کوي. څرنګه چې آیینه حسن او عیبونه ښکاره کوي دا رنګه یو مؤمن د بل مؤمن په وړاندې دې داسې کړنو مسؤل ګرځي.
سجادي د آینې په اړوند داسې وایي: آیینه یو صیقل شوی جسم دی. د اهل ذوق په کلماتو کې مراد ځنې د کامل انسان زړه دی. ځکه چې ذات، صفات او اسماّ ته آیینه ویل کیږي او دا معنی په کامل انسان کې چې بشپړ مظهریت لري څرګنده ده( سجادي، ۱۳۷۰، ص ۴۵).
آیینه د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې په بېلابېلو ترکیبونو او مفاهیمو سره په تشبیهي، استعاري او سېمبولیک ډول سره راغلې ده چې پر ځینو برخو یې دلته بحث کوو.

## آئینه او زړه

امام غزالي رحمة الله علیه په کیمیای ســعادت کې د آیینې او زړه په اړه وایي: د زړه مثال د یوې هینداریې په شــان دی او د لوح محفوظ مثال هم د هینداریې په شــان دی، چې د ټولو موجوداتو عکس په هغې کې شته، څنګه چې یوه هینداره بلې هینداریې ته په مخامخ ایښوولو سره د یوې صــورتونه بلې ته منعکس کوي، دغه ډول که د زړه هینداره صــافه وي نو د لوح محفوظ د هینداریې صــورتونه په دې کې ښــکاره کېدای شي، او دا د زړه هینداره د لوح محفوظ د هینداریې سره نسبت پیداکوي ( غزالي، ۱۳۹۴، ص ۲۵).
په تصوف او عرفان کې د « زړه د آیینې) مفهوم په پراخه او ژوره معنا سره استعمالېږي او د انسان د زړه د سېمبول په توګه په نظر کې نیول کېږي، چې د الهي حقیقتونو او نوراني تجلیاتو د انعکاس وړتیالري، په ادبیاتو او عرفان کې دآیینې څخه مراد د عارف باطن دی دا مفهوم د ډېرو عرفاني

ښوونو په ځانګړي ډول د صوفیانو او د لویو شاعرانو په آثارو کې په بېلابېلو مفاهېمو سره روښانه اوځرګند شوی دی چې هره برخه به یې په لاندې ډول سره روښانه کړو:

**آیینه د انسان د زړه په توګه**

په دې لیدلوري کې د زړه آیینه هماغه د انسان زړه دی، چې د انسان د ادراکاتو او احساساتو مرکز بلل کېږي. زړه په عرفان کې د انسان باطن ته اشاره کوي، یعنې یوازې هغه احساس نه دی چې په ظاهري سطحه کې وي، بلکې د انسان له وجود څخه هغه اړخ دی چې کولای شي د الهي رڼا او حقیقت څخه برخه من شي د پښتو ادب د منځنۍ دورې متصوفو شاعرانو دا موضوع په خپلو شعرونو کې داسې وړاندې کړې:

دغــه زړه پــه مــثــال د آیــنــې دی
کــه لــه غیرو انـدېښــنو یې تــه صــیقـل کړې
(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۲۹۹)

په پورته بیت کې میرزاخان انصــاري زړه له آیینې سره تشــبیه کړی، څرنګه چې آیینه له دوړو او ګردونو څخه پاکه وي په هغه اندازه حقیقي تصــویر وړاندې کوي، زړه هم داســې دی لکه آیینه، چې څومره یې د دنیوي او نفســاني غوښــتنو څخه پاک کړې په همغه اندازه حیققت پکښــې څرګندېږي یا الهي تجلی انعکاسوي.

دا بـې مـثـلـه زړه روښــانـه آیـنـه شـــوه
نـن ده وکښـــه د دوو کـونـو لـه غـلافـه
(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۱٦۳)

په پورته بیت کې میرزاخان انصاري یو ډېر ژور تصوفي مفهم وړاندې کړی هغه زړه له آیینې سره تشبیه کړی آیینه چې څومره صفاوي هغومره حقیقي تصویر ښیي. د انسان زړه هم چې څومره د مادي پردو څخه ووزي نفس تزکیه کړي، دنیایي خواهشات پرېږدي د هغه زړه د الهي تجلی ځای ګرځي یا حقیقت ته رسیږي.

بـل پـوشــــاک یـې پـه کـار نـه وي بـې نمـده
هـغـه زړه چـې آیـیـنـې غـونـدې روښــــان شي
(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۲۱۸)

په پورته بیت کې رحمان بابا زړه له آیینې سره تشــبیه کړی هغه وایي کله چې انســان له دنیوي او نفسـاني غوښـتنو څخه تذکیه شي هغه بیا زرینو جامو ته ارزښـت نه ورکوي بلکې په وړینو جامو قناعت کوي لکه څرنګه چې صافې آیینې په وړینو توکو کې ساتل کیږي ترڅو زنګ نه شي داسې د عارف لپاره وړینې جامې ضرور دي تر څو په ښـایسـته او قیمتي جامو کې کبر او غرور ترې ونه شي.

زړه پــــه مـــثـــل آیـــیـــنـــه دی
تـــن پـــه مـــثـــل د غـــلاف
(عبدالقادر، ۲۰۰۲، ص۷۳)

**د مادي ککړتیاوو څخه د زړه پاکوالی**

په اســـلامي عرفان کې، زړه د آیینې په څېر دی که دنیوي او مادي ګرد پرې پرېوت، د حقیقت او الهي نور د انعکاس کولو وړتیا نه لري. په همدې اســـاس په تصــوف او عرفان کې « دنفس تزکیه» یعنې د هر ډول ګناهونو او دنیوي تعلقاتو څخه د زړه د پاکوالي په معناده. د زړه دا تزکیه او پاکوالی ددې سبب کېږي چې انسان وکولای شي الهی تجلیات او د حق نور په خپل زړه کې مشاهده کړي.

چـې د زړه آرسي لـه زنـګـه صـــفـا نـه کـه
د یـار مـخ پـه څـه شـــکـل ګـورې بـې مـرآتـه
(لوانې، ۱۳۵۳، ص ۷۲)

په پورته بیت کې دولت لوانې ســالک ته وایي تر څو چې زړه له دنیوي ککړتیاوو لکه: کینه، حسد، تکبر او نورو ګناهونو څخه پاک نه کړې نه شې کولای چې د حق دیدار ته ورسېږې.

دغـه زړګـی بـې مـثـلـه آیـیـنـه شـــو
تـل د بـدګـومـان لـه زنـګـه مصـــفـا
(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۲۵۵)

په پورته بیت کې میرزاخان انصاري وایي کله چې د یو عارف زړه له شـك، بدګومانی، حسـد او کینې څخه خلاص شي نو زړه یې صفا شي دا صفا زړه دا سې ګرځي چې په هغه کې الهی تجلی او نور انعکاس کېږي.

### د الهي حقیقت انعکاس

کله چې د زړه آیینه له ککړتیاوو څخه پاکه شي، نو د یوې صفا او شفافې آیینې په څېر عمل کوي چې الهی نور انعکاس وي. په دې حالت کې انســـان کولای شي معنوي حقیقتونه ووینې او الهي معرفت ترلاسه کړي. په حقیقت کې، د انسان زړه په دې پړاو کې د اللهج د نور انعکاسوونکې وسیله ګرځي او له ازلي او ابدي حقیقتونو سره اړیکه ټینګوي.

که د زړه آئـینـه صـــفـا کـړې لـه ګـومـان تـه
روحـانې دلـبر بـه وویــنــې عــیـان تــه
(لوانی، ۱۳۵۳، ص ۱۹۹)

په پورته بیت کې دولت لوانی وایي د حق ښــکلا د هغه چا په زړه کې څرګندېږي چې د زړه آینه له کینې، حسد، تکبر او نورو دنیوي ککړتیاوو څخه پاکه کړي.

پـر بـې مـثـلـه آیـیـنـه بـه دې نـظـر شي
کـه د زړه اهـل پـه زړه ګـوري مـنـحـصـــل
( انصاري، ۱۳۵۴، ص ۷۳)

د حقیقت لید، د الهي معرفت او روحاني ښــکلا درک، هغه څوک کولای شي چې زړه یې صــفا وي او د روحاني لیدو وړتیا ولري.که څېله توجه یوازې ظاهري علم، یا محدود عقل ته منحصـر کړې، نو حقیقت ته به ونه رسېږي.

### په زړه کې د الله تعالی د رڼا تجلي

عارفان او صـــوفیان باور لري چې انســـان په فطري ډول دا وړتیا لري چې د خدای رڼا په خپل زړه کې ترلاسه کړي او تجلي یې کړي. لکه څنګه چې یوه آینه رڼا انعکاسوي، همدا سې زړه هم کولای شي د خدای رڼا ووینې او هغه نور ور ته ورســـوي. په دې بهیر کې، انســـان د حقیقت او

کمال پر لور روانېږي او خپل اصلي حقیقت ته رسېږي، چې هماغه د الهي رڼا تجلي ده. نوموړې موضوع د پښتو ادب د منځنۍ دورې تصوفي شاعرانو په خپلو شعرو کې داسې وړاندې کړې ده:

معین د آشنا مخ راته ښکاره شو
چې د زړه آرسي صفا کړه له زنګاره

(لواڼی،۱۳۵۳، ص ٦۴)

په پورته بیت کې دولت لواڼی وایي کله مې چې د زړه آیینه له زنګاره یا له کینې، حسد او ګناهونو څخه پاکه شوه نو حق راته ځرګند شو. په هغه زړونو چې د کینې، حسد، تکبر او نورو ګناهونو ګرد پروت وي نشي کولای چې د حق تجلی انعکاس کړي یا د حق د تجلی مرکز شي. ددې لپاره ریاضت او د نفس تذکیې ته اړتیا ده.

مخ به هاله جلوه ګر پکښې د یار شي
که صفا کړې آیینه د زړه له زنګه

(معزالله مومند، ۱۳۹۱، ص ۱۱۵)

په پورته بیت کې شاعر وایي چې هغه وخت به د حق دیدارته ورسېږی چې د زړه آیینه د دنیوي او نفسي غوښتنو له زنګ څخه پاکه کړی.

د ولت لواڼی وایي:

معنوي شاهد به وو ینې په ځان کې
هر چې زړه د شک له زنګه مصفا که

(لواڼی، ۱۳۵۳، ص ۳۴۷)

### د زانو آیینه

د پښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو د زانو آیینه په بېلابیلو ترکیبونو لکه د زانو آیینې ته د سرکوزول ، د زانو په آیینه د سر ایښودل، د زانو آینې ته مخ نیول او داسې نورو سره راوړې چې هر یو ترکیب یې ځانګړی مفهوم افاده کوي په عرفاني ادبیاتو کې د زانو په آیینه سر ایښودل یا د زانو آیینې ته د سر کوزول د نړۍ، هستۍ او مخلوقاتو په اړه د فکر کولو په معنی سره راځي او د بیلابېلو اهدافو لکه مراقبه، عشق، بېلتون، درد او غم، افسوس، ناهیلي، حیرانتیا، خجالت او انتظار لپاره سر په زنګون ایښودل کېږي.

د سـکندر په خیر جهان به در خرګند شي
که سر کوز په آیینه د خپل زانو کړې
(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۲۰۵)

دا چې سـکندر د ځان له پاره هنداره جوړه کړې وه او په هغه کې به هر څه ورته څرګندېدل او جمشـید پاچا جام درلود چې په هغه کې به د نړۍ حالات ورته معلومېدل نو رحمان بابا وایي که چېرته سر زانو ته یا د زانو آیني ته ښکته کړې او له دنیوي فکرونو څخه ځان خلاص کړې یواځې د الله ج په کائیناتو کې فکر وکړې نو ډېر حقیقتونه به درڅرګند شي. دلته د زانو آیینې ته سر ټیټول د تواضع او باطني پاکوالي په معنی دی.

زړه مې سـوزي لـه غیرتـه لـکه شـمع
آئیـنه چې لـه خـپل ځـانه هـمزانو کـه
(معزالله مومند، ۱۳۹۱، ص ۱۱۳)

په پورته بیت کې معزالله خان په خپلو ګناهونو افسوس کوي هغه وایي چې کله د زنګون آیینې ته سر ښکته کړم یا د خپلو کړنو په اړه ژور فکر وکړم نو له ډېره غیرته سوځېږم معزالله خان مومند نه غواړي چې د زړه په آیینه کښې یې زنګ پیداشي چې بیا د الهی تجلیاتو د انعکاس وړتیا له لا سه ورکوي.

آئینه د خپل زنګون وماته جام جهان نما شـوه
څکه سر لرم تل اېښی د فکرت په زنګون هسې
(عبدالقادر، ۲۰۰۲، ص ۲۱۲)

دا چې په جام جم یا جام جهان نما کې به جمشـید پاچا ته د نړۍ ټول احوال معلومېدل نو عبدالقادر خټک وایي چې ماته په زنګو سر اېښودل، یا د زنګون په آیینه کې کتل چې هدف ترې ژور فکر دی داسې دي لکه جام جم چې هر څه پکښې وینم.

د ښـه مخ جلوه و هغه ته ښـکارېږي
چې یې سر و آئینې ته د زانو وي
(بارکزی، ۱۳۸۸، ص ۱۸۵)

په پورته بیت کې حنان بارکزی وایي چې د ښه مخ جلوه هغه چاته ښکاریږي چې ښه مخ ته د زړه په سـترګو سره ګوري یا د خپل محبوب په اړه دومره ژور فکر کوي چې سر یې د زنګون پر آیینه ایښی وي او د خپل محبوب په اړه فکر کوي.

آئینه د زنگون ونیسه و مخ ته
پکې وگوره احوال د جام جم
( عبدالحمید مومند، ۱۳۸۳، ص ۱۴۸)

حمید مومند په پورته بیت کې وایي که چېرته غواړې د جام جم په ډول د نړۍ حالات درته څرګند شي نو سر خپل زنګون ته ښکته کړه یا د هستۍ په اړه ژور فکر وکړه. جام جم هم لکه آیینه په تصوف کې د عارف د زړه لپاره سېمبول دی

## آئینه او خاکساري

په پخوا وختونو کې د آیینې د پاکولو او صفا کولو لپاره د خاورو څخه استفاده کېدله« پخوانۍ آیینې چې له اوسپنې څخه جوړې شوې وې د اوسنیو ښیښې آینو په څېر یې شفافیت نه درلود. کله به چې نوموړې آیینې زنګ او یا تیاره شوې، د پاکولو په موخه به یې په خاورو کې اېښودلې او یا به یې خاورې پرې موښودې ( طهماسی،۱۳۸۴، ص ۲۹۳). دا چې خاورې د خاکساری، عاجزۍ او شکسته نفسۍ سیمبول دی او آیینه خپله ځلا او روښوالی په خاوروسره تر لاسه کوي، چې دا دې آیینې خاکساري ښیي او دلته چې له آیینې څخه هدف زړه دی کله چې انسان خاکساري، عاجزي، کمیني او شکسته نفسي-کوي او له کبر، غرور لويي او ځان ښودنې څخه ځان ساتي د هغه زړه هم لکه صافه آیینه د حق نور پکښې تجلا کوي او هغه خلك چې کبر، غرور، لويي او ځان ښودنه کوي د هغوی زړونه هم زنګ نیسي-د حق نور نه پکښې انعکاس کېږي د خاکساری او عاجزی په اړه د عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه داسې حدیث شریف راویت شوی دی: عن عُمَرَ بنِ الخطَّابِ رضي اللهُ عنه وهو يقولُ على المِنبرَ يا أيُّها الناسُ تواضَعوا فإني سمِعْتُ رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم يقولُ مَن تواضَع للهِ رفَعه اللهُ فهو في نفسِه صغيرٌ وفي أعينِ الناسِ كبيرٌ ومَن تكبَّرَ وضَعه اللهُ فهو في نفسِه كبيرٌ وفي أعينِ الناسِ صغيرٌ حتى لهو أهوَنُ في أعيُنِهم من كَلبٍ أو خِنزيرٍ( ابوبکر البهیقي، ۱۴۱۰، جلد ۱۰، ص ۴۵۵)

ژباره: عمر رضي الله عنه په منبر باندې خلکو ته وویل چې اې خلکو! عاجزي او خاکساري کوی ، ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمایل به یې، چا چې د الله تعالیﷻ لپاره عاجزي وکړه الله تعالیﷻ به یې مرتبه اوچته کړي ، ده ته به ځان کم ښکاري لیکن د خلکو په نظر کې به ډېر لوی ښکاري ، او چا چې تکبر وکړ الله تعالیﷻ به یې مرتبه را ښکته کړي، ده ته به ځان ډېر غټ ښکاري خو د خلکو په نظر کې به وړوکی ښکاري ، تر دې چې د خلکو په نظر کې به د سپي او خنزیر څخه هم سپک وي؛ العیاذبالله.

دا موضوع د پښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو په لوړ شاعرانه انداز سره په خپلو شعرونو کې راوړې ده لکه په لاندې بیتونو کې چې شاعران وايي:

چې يو موټی ايرې ناز په آينه کا
په دغه خبره فخر د خاکسار شي
(رحمان باب، ۱۳۹۱، ص ۲۱۰)

په پورته بیت کې رحمان بابا وايي د آيينې ځلا چې له خاورو او ايرو سره تړلې ده څکه پر خاورو ناز کوي نو په دې سبب خاکساره خلک چې د الله پاکﷻ په وړاندې يې مقام لوړ شي په خپله خاکسارۍ فخر کوي .

چې کمال له کمينی حاصلېږي
ځکه تور که آئينې په خاکستر مخ
(معزالله مومند، ۱۳۹۱، ص ۳۲)

کوم خلک چې د کمال مرتبې ته رسېدلي دي د هغه راز په کمينۍ او عاجزۍ کې دی او هغه ځوک چې کبر او غرور کوي هغه د کمال درجې ته نه دي رسېدلي نو د آيينې ځلا چې ډېره ده او د تصوير د ښودلو کمال لري هغه د خاورو او ايرو له برکته ده ، خاورې او ايرې د آينې ځلا نوره هم زياتوي تر څو تصوير په ښه شکل سره و ښيي دلته خاورې د عاجزۍ او خاکسارۍ سېمبول دی هدف دلته د انسان له خاکسارۍ څخه دی څومره چې انسان د اللهﷻ په وړاندې عاجز، بې کبره او خاکساره وي د اللهﷻ په وړاندې يې مقام هم لوړ وي .

عبدالقادر خټک وايي:

آينه د زړه صفا له خاکسارۍ شي
هم په دا له تورو خاورو شه خاکسار ګډ
(عبدالقادر، ۲۰۰۲، ص ۵۴)

په پورته بیت کې عبدالقادر خټک وايي د زړه آيينه هغه وخت پاکېږي چې دومره تواضع، عاجزي او کميني اختيار کړې چې ځان له خاورو سره برابر کړې.

چې ايرې د بېقدرۍ شي پرې مښبودې
آئينه د هغه زړونو وي رڼه
(حميد مومند، ۱۳۸۳،ص ۲۵۵)

په پورته بیت کې حميد مومند وايي څومره چې انسان تواضع او عاجزي کوي هغومره يې زړه صفا او الله پاک ته نېږدې وي. په فلزي آيينه چې څومره خاورې مښودل کېږي هغومره يې ځلا زياتېږي چې دلته خاورې د عاجزۍ لپاره د سېمبول په توګه راغلې دي.

## آينه او زنګ

ځرنګه چې آيينې له اوسپنې څخه جوړېدلې، نوموړې آئينې به يې له زنګ څخه ساتلې او هغه آئينې چې زنګ وکړي تصوير په حقيقي ډول سره نشي ښودلی. دا چې په ادبياتو کې آئينه د زړه سره تشبيه شوې او په استعاري، تشبيهي، او سيمبوليک ډول د زړه په معنی سره راغلې د پښتو د کلاسيکې دورې په عرفاني او د يواني شاعرۍ کې هم آينه د زړه په معنا سره کارول شوې ده. د انسان زړه هم دا سې ځانګړنه لري، زړه چې په ذکر او ريا ضت سره صيقل نه شي په بدو کړنو او ګناهونو سره د آيينې په څېر زنګ نيسي–او د حق تجلي نه پکښې انعکاس کېږي. امام غزالي صاحب په کيميای سعادت کې ليکي: ( زړه يوه روښانه هينداره ده او بد خويونه او صفتونه دود او تياره ده، ددې په اثراتو سره د زړه هينداره توربږي او که داسې وشوه نو د قيامت په ورځ به د اللهﷻ د ديدار څخه داسې سړی محروم وي، او نيک اخلاق رڼا او نور دی کوم چې د زړه هينداره روښانه کوي)( غزالي، ۱۳۹۴، ص ۲۱). الله تبارک و تعالی د قرآن المجيد د صورت المطففين په ۱۴ آيت کښې د زړونو د زنګ په اړه داسې فرمايلي دي:كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿المطففين: ١٤﴾ ژباړه: هېڅکله نه، بلکې حقيقت دا دی چې د دې خلکو زړونه د دوی د بدو عملونو له امله زنګ وهلي دي.(سورت، مطففين، ۱۴ آيت)

او همدارنګه په دې اړه د عن ابن عمر رضی الله عنه څخه يو حديث شريف هم روايت شوی دی : عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان هذه القلوب تصدأُ كما يصدأُ الحديد اذا اصابه الما ء قيل يا رسول الله وما جلائها قال كثرة ذكر الموت وتلاوة القرآن ( ابوبکر البهيقي، ۱۴۱۰، جلد۳، ص ۳۹۲).

د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دئ، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بېشکه زړونه هم زنګ کوي لکه اوسپنه چي د اوبو په رسېدو سره زنګ کوي. يو چا پوښتنه وکړه چي پاکي يې په څه شي سره ده؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د مرګ په ډېر يادولو سره او د قرآن په تلاوت سره.

پخوانۍ آينې چې له اوسپنې څخه جوړې شوې وې آينه د زړه، زنګ د ګناه او صيقل کول د نفس د تزکيې سېمبول وو ( ژان شواليه، ژباړن:فضايلي، ۱۳۸۴، ص ۳۳۱). د زړونو د زنګ ترکيب د پښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو په لاندې ډول سره راوړی دی:

تل يې مخ د يار په مخ باندې وي اېښی
هغه زړونه چې بې زنګه آينه دي
( رحمان باب، ۱۳۹۱، ص ۱۹۲)

په پورته بیت کې رحمان بابا وایي یوازې هغه زړونه د حق وصال ته رسېږي چې د حسد، تکبر، ګناهونو او د نفسي غوښتنو له زنګه خلاص وي .

د عارف زړګی بې مثله آینه شو
تل د بدو ګومان له زنګه مصفا
(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۵۵)

په پورته بیت کې میرزاخان انصاري وایي کله چې د عارف زړه له بدګومانیو او شکونو څخه خلاص شي د یوې آیینې په شکل حقایق پکې څرګندېږي .

چې د زړه آرسي له زنګه صفا نه که
د یار مخ په څه شکل ګورې بې مرآته
(لوانی، ۱۳۵۳، ص ۷۲)

په پورته بیت کې دولت لوانی وایي تر څو زړه له ګناهونو او نفسي غوښتنو څخه پاک نه کړې حقیقت نه شې لیدلای لکه څرنګه چې آیینه زنګ وي یا ګرد پرې لویدلی وي تصویر په حقیقي ډول سره نشي ښودلی.

درست جهان یې آینه کړ بې زنګاره
په هر لوري خپل مخ ګوری هویدا حق
(لوانی، ۱۳۵۳، ص ۲۰۹)

دولت لوانی چې د وحدة الوجودي فلسفې پیرو دی او دا فلسفه یې په خپلو شعرونو کې وړاندې کړې ده هغه وایي چې الله تعالیٰ د کائیناتو دا هستي د آیینې په څېر پیداکړې ده چې هر طرف ته ګوري په کائیناتو کې د حق تجلی انعکا سېږي وحدة الوجودي فلسفه وایي چې دا نړۍ حقیقي نه ده بلکې دا دې حقیقت یو عکس دی.

پند د محمد د ابوجهل پکار نه شه
څوک به یې صیقل کا چې یې خدای آینه زنګ کړې
(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ص ۳۹۲)

په پورته بیت کې خوشحال خان خټک هم د آیینې د زنګ خبره کړې هغه وایي چا ته چې الله پاک ج هدایت نه وي کړی هغه په پند او نصیحت سره نه اصلاح کېږي لکه څنګه چې ابوجهل ته د حضرت محمد ص له خوا نصیحتونه کېدل خو منل یې نه ځکه چې د الله ج له خوا ورته هدایت نه وو شوی.

چې د خط ســبزې يې ځای په رخســار ونیو
زمـا د زړه آئـيـنـې ځـکـه زنـګـار ونـیـو
(بارکزی، ۱۳۸۸، ص ۱۰۷)

د هندي سبک پیرو حنان بارکزي هم په خپلو غنايي اشعارو کې د آیینې یا دونه کړې ده په غنايي ادبیاتو کې هم آیینه د زړه معنا لري لکه څرنګه چې په پورته بیت کې ورته اشاره شوې ده.
پیرمحمد کاکړ د زړه د زنګ په اړه بیا داسې وايي:

چې پـه نـاز يې زړه ســا تم لـه کـدورتـه
آئـیـنـه دزړه مــې زنـګ کـا هـغـه یـار
(کاکړ، ۱۳۹۸، ص ۶۵)

**آینه او نمد(لمڅی)**

په پخوا وختونو کې آیینې له فلزاتو څخه جوړېدې ددې لپاره چې زنګ ونکړي په لمڅي او نرم ټوکر کې به يې ساتلې(ګلی. اقدم، ۱۳۸۴، ص ۱۲۵). رحمان بابا وايي لکه څرنګه چې صافه او روښــانه آیینه په لمڅي کې ســاتل کېږي ترڅو زنګ او خرابه نه شي نو کوم زړونه چې د الله پاکج په ذکر سره روښانه شي او د حق تجلی داسې پکې څرګنده شي لکه روڼه آیینه چې ځلېږي هغه زړونه له دنیا، زرینو جامو او نفسي غوښتنو څخه ځان ساتي، عاجزي غوره کوي او یوازې په وړینو جامو یا لمڅي قناعت کوي لکه چې وايي:

بـل پوشـــاک يې پـه کـار نـه وي بې نمـده
هغـه زړه چې آينې غونـدې روښـــان شي
( رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۲۱۸)

فلزي آیینې چې په وړین ټوکر کې ســاتل کېدې تر څو زنګ او یا ماتې نشي ــ او زړه چې د الله پاکج په ذکر سره له زنګ او تور والي څخه ساتل کیږي او په ګناهونو، کبر، غرور او ځان ښودنه سره زړه زنګ نیسي او د الله پاکج نور نه پکې ځلېږي نو معزالله خان مومند وايي لمڅی او وړینې جامې چې د عارفانو، بې کبره او غريبو خلکو جامه ده لکه آیینه چې د ځان لپاره يې لمڅی جامې ګرځولې دي او په دې سره يې خپله ځلا ساتلې ده هغه وايي:

هـغـه زړه بـه آیـنـې غـونـدې صـــفـا وي
چـې آغـوســـتـی يـې نـمـد وي یـا پـلاس
( معزالله مومند، ۱۳۹۱، ص ۵۴)

حمید مومند وايي چې یار دې زما د اطلسـو او زرینو جامو غوښـتنه نه کوي بلکې د آینې په څېر وړینې او پشمینې جامې اغوندم هغه وايي:

اطلس پوښ دې و یـار زمـا د شـړی نـه کـا
شـــاړ نمـد کړ آئینې غونـدې بســـتر مـا
(عبدالحمید مومند،۱۳۸۳، ص ۸)

## پایله

دا چې تر او سه په پښتو ادب کې د آیینې تاریخي او مفهومي څېړنه نه وه ترسره شوې په دې څېړنه کې د آیینې په تاریخي مخینه او رمزونو بحث شوی. ددې څېړنې پایلې ښیي، چې آیینه په عرفاني او غنايي ادب کې د زړه لپاره د تشبیه، استعارې او سـمبو په ډول سره راغلې ده. آیینه له خپل ځان سره ډېر مفاهیم لیږدوي، آیینه د عارف د زړه او باطن تشـبیه، اسـتعاره او سـمبول دی ځرنگه چې آیینه صافه او شفافه وي په همغه اندازه تصویر په ښه بڼه ښیي، دارنگه څومره چې د عارف زړه او باطن له نفسي غوښتنو څخه تذکیه وي د الهی تجلیاتو انعکاس کوونکی وي. آیینه د خاکساری لپاره سمبول دی دا چې پخوا آیینې له فلزاتو څخه جوړېدې نو د آیینو د صیقل کولو لپاره یې له خاورو څخه اسـتفاده کوله، نو یو عارف چې څومره تواضـع او خاکسـاري کوي د الله پاک(ج) په وړاندې یې مقام لوړیږي. په دې څېړنه کې د پښتـو ادب د منځنۍ دورې د لســو تنو تصوفي او غنايي شاعرانو له دیوانونو څخه د آیینې په اړه د بېلابېلو مفاهیمو لپاره نمونوي بیتونه را اخیستل شوي چې د آیینې په اړوند یې په تشبیهي، استعاري او سیمبولیک ډول سره را وړي دي.

## اخځلیکونه

1. قرآن الکریم.
2. آبسالان، محبعلی(۱۳۷۵). رمزپردازی آیینه در ادب عرفانی فارسي، (مقاله). مجله علوم انسانی، شماره ۲، سال۲.
3. آر یا نا دایرة المعارف لومړی ټوک.(۱۳۸٦). د افغانســـتان د علومو اکاډمی د دایرة المعارف د مرکز ریاست:براسکا مطبعه، کابل.
4. ابو بکر البیهقي، احمـد بن الحســین بن علي بن موســی الخسرـو جردي الخراســاني،.(۱۴۱۰) شـعب الایمان، جلد ۱۰، تحقیق، محمدالسـعید بسـیوني زغلول : الناشر، دار الکتب العلمیة. بیروت.

5. ابو بكر البيهقي، احمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسرو جردي الخراساني.(۱۴۱۰) شعب الايمان، جلد۳، تحقيق، محمدالسعيد بسيوني زغلول: الناشر، دار الكتب العلمية. بيروت.
6. انوری، دکترحسن،(۱۳۸۳). فرهنگ روز سخن، چاپخانه مهارت، انتشارات سخن، تهران.
7. انصاري، میرزاخان. (۱۳۵۴). د میرزاخان انصاري دیوان. د حبیب الله رفیع په اهتمام: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
8. بارکزی، میرزا حنان.(۱۳۸۸).د میرزا حنان بارکزي دیوان. د محمودهوتک په زیار:صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه.
9. خټک، خوشحال خان. (۲۰۰۱). ارمغان خوشحال. د سیدرسول رسا په زیار: یونورسیټي بوک ایجنسي خیبر بازار.
10. خټک، عبدالقادر خان. (۲۰۰۲). د عبدالقادرخان خټک دیوان.د جهان زیب نیازي په زیار: پيښور اکاډمي، لاهور.
11. خټک، کامگار خان.(۱۳۹۳). د کامگار خان خټک دیوان. د میاولي شاه فقیرخیل په زیار: دانش خپرندویه ټولنه.
12. داوری مقدم، فریده. اسحاق، زهرا.( ۱۴۰۰). بازنمایی بن مایه آیینه در غزلیات حافظ.(مقاله)، پژوهشنامه متون ادبی دوره عراقی، سال دوم، شماره۴، زمستان.
13. زریاب خوبی، دکترعباس، (۱۳۷۴). آیینه جام، چاپخانه مهارت، تهران
14. ژان شوالیه. آلن گربران.(۱۳۸۴). فرهنگ نمادها. جلد اول، چاپ دوم. ترجمه و تحقیق:فضایلی، سودابه: انتشارات جیحون، تهران.
15. سجادی، دکترسیدجعفر.(۱۳۷۰). فرهنگ اصطلاحات و تعبیرات عرفانی: انتشارات طهری، تهران.
16. شیدا، کاظم خان.(۱۳۹۷ه ش). د کاظم خان شیدا دیوان.کابل: دانش خپرندوینه ټولنه.
17. طهماسی، فریدون. محمدی سومار، شهلا(۱۳۸۴).آموزه های تعلیمی در خوشه تداعی تصویر های شعر صائب تبریزی، (مقاله). پژوهش های نثر ونظم فارسی، سال دهم، شماره اول، بهار.
18. عبدالرحمن بابا.(۱۳۹۱ ). د رحمان بابا دیوان د محمد عارف غروال په اهتمام: صداقت خپرندویه ټولنه، کندهار.

19. غزالی، امام ابو حامد،(۱۳۹۴). کېمیای سعادت، ژباړن: مدني، مولوي حبیب الرحمن: صداقت خپرندویه ټولنه، کندهار.
20. کاکړ، پیرمحمد.(۱۳۹۸). د پیرمحمد کاکړ دیوان: صحاف نشراتي مؤسسه کوټه.
21. کرمی، اعظم. فرزاد، دکتر عبدالحسن.( ۱۳۹۷).آیینه ومنصب آیینه داری در ادب فارسی باتاکید بر روزگار صفوی، فضل نامه تخصصی زبان و ادبیات فارسی دانگشاه آزاد اسلامی مشهد، شماره ۱۳، دوره ۱۴، بهار.
22. گلی، احمد. اقدم، ابوالفضل مهدوی.( ۱۳۸۴).آینه مضمون ساز ترین عنصر-شعر بیدل، (مقاله). نامه فارسی، سال دهم، شماره اول، بهار.
23. لواڼی، دولت. (۱۳۵۳). د دولت لواڼي دیوان. د عزیزالله او محمد عارف غروال په اهتمام: پښتو ټولنه، کابل.
24. معین، دکترمحمد.( ۱۳۲۸). جام جهان نما، .(مقاله)، سال او، شماره ٦.
25. معین، دکترمحمد، آیینه سکندر.(مقاله)، مجله دانشکده ادبیات، شماره ۱.
26. مومند، عبدالحمید.(۱۳۸۳). د عبدالحمید مومند کلیات. د محمد آصف صمیم په زیار:دانش خپرندویه ټولنه.
27. مومند، معزالله خان.(۱۳۹۱). د معزالله خان مومند دیوان. دریم چاپ. د همیش خلیل په زیار: دانش خپرندویه ټولنه.
28. ناګار، فضلی ولي. د رحمن بابا په شعر کې د تصوفي نومونو(اصطلاحاتو) ښکلا. https://www.nu.edu.af
29. نوبر، دکتر احمدشوقی، تاملی در بیت حافظ.(مقاله). پژوهش های زبان و ادبیات فارسی دانشگاه اصفهان، دوره جدید، سال دوم، شماره۳،پاییز۱۳۹۸.
30. یاحقی، دکترمحمد جعفر.(۱۳۹۱). فرهنگ اساطیر و داستان واره ها در ادبیات فارسی: مؤسسه فرهنگ معاصر.

Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# A study of the Concept of Mirror (Ayina) in the Middle Period of Pashto Literature

Waheedullah Amiri
Helmand University, Faculty of Education, Pashto Department
**Email:** amiri.786@yahoo.com

## Abstract

In the medieval period of Pashto literature, poets, in search to enhance the aesthetic qualities of their poetry and add or present complex mystical themes, made use of different similes, metaphors, and symbols, one of which was the mirror (Aina). In this period, poets employed the mirror (Aina) as a symbol, metaphor, and simile for the heart. In literature, consistent mention is made of Alexander's mirror (Aina), which, from the view of certain historical works, is attributed to Alexander. It is said that, with the help of Aristotle, Alexander constructed such a mirror (Aina) for the purpose of defending the city of Alexandria, through which he could discern the conditions of the enemy. Research findings clarifies that poets of all categories, whether lyrical poets or Sufi poets, used the mirror (Aina) in particularly the same sense, namely, as a representation of the human inner self or heart. Just as the clarity and polish of a mirror (Aina) determines the accuracy of the image it reflects, so in Sufi poetry, the extent to which the human heart is free from sins, arrogance, and envy determines the extent to which the Divine Manifestation resides within it. This research undertakes an overall exploration of the concept of the mirror (Aina). employing the bibliographic method alongside explanatory and interpretive approaches. It reveals and elucidates the hidden symbolic meanings of the mirror (Aina).

**Keywords**: mirror (Aina), heart, rust, mysticism, humility.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**